د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
په ولسي او سیاسي چارو کې د جمهوري
ریاست د ستر سلاکار دفتر

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
دفتر مشاور ارشد رئیس جمهور در امور
مردمی و سیاسی

**Islamic Republic of Afghanistan**

**Office of the Senior Advisor to the President in political and Public Affairs**

د دفتر ریاست

ګڼه: ( ۱۰۱ )

نېټه: ۱۴۰۰/۷/۳

---

**د ا.ا.ا د چارو اداري محترم لوي ریاست ته!**

السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته!

**موضوع: په ولسي او سیاسي چارو کې د ستر سلاکار او د حزب اسلامي سره د سولې د تفاهم لیک د ګډ کمېسیون د دفتر د احناسو تسلیمي تعقیب.**

څرنګه چې د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري اوسنی رهبري په جریان کې د په ولسي او سیاسي چارو کې د پخواني ولسمشر ستر سلاکار د(۹۹) او (۱۰۰) ګڼو د ۱۴۰۰/۶/۱۰ نېټې مکتوبونو کې د نوموړي مشاوریت د یو عراده زرهي لندکروزر او د یاد مشاوریت د ځینو توکو تسلیمي چې د حزب اسلامي سره د سولې د هوکړه لیک د ګډ کمېسیون دفتر له ادرسه ورپورې ثبت شوې ول تاسو ته د تسلیمي په اړه رسمي مکتوبونه لیږلي ول.

داچې تر ډېر وخت پورې تاسو مونږ ته په دې اړه اطلاع را نکړه د نوموړي مشاوریت زرهي لندکروز موټر د اسلامي امارت رهبري ښاغلي شیخ الحدیث شهاب الدین د لاور ته تسلیم او نوموړي نور جنسونه له مونږ سره امانت پاتې دي.

د چارو اداري رهبري چې هر وخت وغواړي پاتې جنسونه چې پکې استعمال شوي میزونه ، څوکۍ ، کمپیوټرې ، پرینټر ، پکې ، بخارۍ ، جنراتور ،کوچونه او نور استعمال شوي الکترونکي توکي شامل دي سپارلو ته چمتو یو.

د دې مکتوب سره مونږ د زرهي موټر د تسلیمي سند او د اجناسو د تسلیمي مکتوب کاپي هم ستاسو حضور ته لیږو او دفتري جنسونو د تسلیمي په اړه ستاسو د ځواب منتظر یو.

په درنښت

ادم خان سیرت

په ولسي او سیاسي چارو کې د ستر سلاکار د دفتر رئیس

PAJHWOK
Afghan News